مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان

۲۰۲۳/۰۶/۰۳

# بلا دي واخلم په بلا واوښتي

زموږ د سترګو په اداء واوښتي
بلا دي واخلم په بلا واوښتي

ښکلي ته ديرش سيپاري تا وښودې
او شکراني يې په ملا واوښتي

لږ خو مو زړه کې له اوله هم وې
خو اوس زموږه په دعا واوښتي

شوګير، دردونه او سندرې د غم
ته هم اخير زموږ په دنيا واوښتي

دا کرامات نه دي نو نور څه دي
بې وفا عشق کې په وفا واوښتي

زړه دې له نوي سره شور وکړ
خدايزده په کوم يو مسيحا واوښتي

سيه مستئ دې هم لاج و نه ساته
په ګورو زلفو د سياه واوښتي

تا را کتل چې په بلئ ناسته وم
ما در کتل چې په ګناه واوښتي

هيڅ مې منله نه خو ښکاري داسې
وخت سره ته هم زما اشنا واوښتي

له ورک دېوانه را ولاړ غزله
د ښکلو زړونو په درزا واوښتي

کابل ۲۰۲۳/۳/۲۴



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ